تجهیز د روزنې په پرتله ډېر مهم دی

خای باید دوی ته
نګرې مرکه کې
و تجهیزول دي.
و پرل د نورونو د
چې بوه اووني
ستان کې د ناټو
ستازي صورتس
روزنه او مشوره
و خبېز، چې په
نګرې مرکه کې
ې پر خای دي.
ته میلیارده ډالره
ه، چې د امریکا

په ګډون د ناټو خپلې غړي هېوادونه په افغان خواکونو ته تجهیزات برابروي، چې په دوو کې هلې ځلې کاږي او زړه پاکونه شامل دي. د افغان خواکونو تسلیول او تجهیز ترټولو ډېر مهم دي، چې موږ دلته زړګونه روزو. کې وایو ۱۰ بوه اووني وروسته پسې د ۲۰۱۵ کال د جنوري میاشتې په لومړۍ نېټه تا افغانستان کې د ضوغ ملاتړ په لسوم ټولګي ماموریت پیلوي، چې له مخې به یې ۱۲ زر بهرني سرتېري په افغانستان کې پاته کېږي او افغان خواکونو ته به روزنه او مشوره وړکوي. د ناټو ملکي استازي وایي، تر اوسه پرېکړه نه ده شوې، چې نوي ماموریت به یې څو کاله دوام وکړي. د ناټو دغه چارواکي وایي، په اصولو کې د دوي دغه ماموریت په بشپړه توګه غیر پوځي دي او پاته کېدونکي عسکر به یې په جګړو کې برخه نه اخلي. خو د خپلو راپورونو په اساس په افغانستان کې پاتې کېدونکي امریکایي خواکونه کولای شي، د افغان حکومت په غوښتنه او مشوره په پوځي عملیاتو کې هم برخه واخلي. د ناټو ملکي استازي په داسې حال کې د افغان خواکونو په تجهیزګار کولو، چې په دې وروستیو کې د حکومت د وسلې والو مخالفینو فعالیتونه زیات شوي او د کوټې په داکرم واقعه [illegible]

Ketabton.com

۲ وروسته امریکا خپلسرې عملیات نه شي کولای

ي د امریکا د دفاع وزارت چارواکو ویلې، چې یوازې هغه طالبان به په نښه کوي، چې دوی او افغان خواکونو ته ګواښ وي

ي، له ۲۰۱۴ خواکونو د ال مخالفین چارواکي د فغانو له په

راډیوته ویلې: له ۲۰۱۴ کال وروسته امریکا په افغانستان کې خپل سرې عملیات نه شي کولای. ښاغلې وزیرې زیاته کړې، د افغان خواکونو په غوښتنه امریکایي سرتېرې په جګړه خواکونه عملیات کوي معنې دا چې که له ۲۰۱۲ کال وروسته د بهرنیانو خواکونه په افغانستان کې هم وي، که چېرې افغان خواکونه وزنه وغواړي، دوی به مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرمقاله

د ترهګرۍ او اوریکۍ پرضد د درېدو سخته اړتیا

بوه اوونۍ وړاندې ، نېره سې شنبې ، په پېښور کې پر بوه ښوونځي او و ترګرو ډله بېر برید تر سره کړ ، چې په لړ کې یې څه ناڅه ۱۵۰ کسان ووژل شول ، چې له ۱۲۰ ډېر یې د ښوونځي زده کوونکي وو او برېدګر هم له سخته بوږل شول، دا برید لکه به شنه اسمان تندر و او پاکستان د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د هغه برید غوندې وباله ، چې پر امریکا تر سره شو او به کې ناڅه ډېرې زړه کسان ووژل شول ، د پېښور دا برید افغان حکومت به سخنو ټکو سره وغانده، په اصل کې د دغه برید د قربانیانو له کورنیو سره ټول دردمن دي په نېره یې افغانان ، چې د دا ډول ترهګرۍ قربانیان دي. دا برید پر هغه ورځ تر سره کړې ، چې افغان ولسمشر محمد اشرف غني پکتیکا ته ځي او د دغه ولایت به بحیې خیلو کې د هغه ترهګر برید له قربانیانو سره همدردۍ کوي، چې څه موده وړاندې د والیبال پر لوبو وشو او سلګونو کسانو ته یې مرګ ژوبله واړوله ، د هغه برید ټول قربانیان ملکي وګړي به نېره یې ماشومان وو ، ټل دا چې پرکونړ څه ناڅه درې زړه وسله وال برغل کوي ، چې له قبایلي سیمو پرې را اوښتي دي ، اوس د کونړ دانګام له سخت مقاومت سره مخ ده . د پېښور له برېده بوه ورځ وروسته د پاکستان د بوځي ، انتخاراتي او دیپلوماتیک مشران به ناڅاپي سفر کابل ته راغلل او له ولسمشر محمد اشرف غني او به کابل کې د ناټو له مېشت عمومي قومندان سره یې وکتل ، داسې ویل کېږي ، چې هغوی داسې مدارک وړاندې کړي ، چې کنې دا برید له افغانستانه پلان شوی ، خو داسې نه ده ، بلکې افغانستان تر دې معتبر اسناد به لاس کې لري ، چې پر افغانستان ټول بریدونه له ډېرولډ کرښې بوري غاړه کې پلانېږي او د حقاني شبکې به خبر دګټو ترهګرو او اوریکو ډلو تر شا بېلابېلې شبکې او ډلې ولاړې دي ، خو په پېښور کې پر ښوونځي د برید بره پاکستاني طالبانو پر غاړه اخېستې ده دا برید ښایي د پاکستان له ډېرو تاریخي پېښو سره هم تړاو ولري ، نو پاکستاني چارواکي باید د دغه برید تر شا لاسونه برښډکړي لومړی باید پلټنه وشي ، چې په هغه ورځ د دغه ښوونځي ، چې په کې د بوځیان زامن پر زده کړو بوخت وو ، کوم اداري کسان ، ښوونځي او زده کوونکي غیر حاضر وو ؟ کوم دا ډول کسان او زده کوونکي ناروغان وو ؟ کوم دا ډول کسان او زده کوونکي د اپنډیکس او یا نورو ورته عادي ناروغیو به ځمه بوه یا دوې درې ورځې محکې عملیات شوي وو ؟ دا پلټنې ښایي د برید تر شا د ډېر لاسونه برښډکړي د برید نور اړخونه هم د اندېښې وړ دي ، ځکه سیندبان او بلوخان عملاً له پخپله ارادې غواړي او قربانۍ ورکوي ، ځکه د کراچۍ او کوادر بندرونو د عوایدو غوښه برخه پخپلیان وړي او د بلوچستان پر زېږېدو هم له پخپله سره سخت اختلافونه دي ، که دا برید د سپټمبر د بوولسمې غونډې ګټل کېږي ، چې د امریکا په خبر به پاکستان هم تري پر افغانستان به ځانګړې توګه کونړ د برید پلمه تر لاسه کړي ، نو ستره نېرونه کوي ، کونړ د افغانستان لپاره ډېر مهم دی او چا ته به اجازه ورنه کړي ، چې لاندې یې کړي او په دا ډول پلمو به افغانستان کې نیابتي جګړې روانې وساتي مور دا برید چې ترشا یې استخباراتي لاسونه دي په کلکه غندو ، خو له پاکستانه غواړو ، چې د هغې ترهګرۍ او اوریکۍ پرضد کامونه پورته کړي ، چې په دا ډول بریدونو یې پاکستان ، افغانستان ، سیمې او نړۍ ته ګواښونه را ولاړ کړي دي

د کورنۍ او بهرنۍ سیاست څخې

د افغان حکومت رسمي وېپاڼو بریدونه د سختې اندېښنې وړ دي

هدایت الله نوري

ریوټونه وایي ، چې د افغان حکومت ګڼې رسمي وېپاڼې تر بهرنۍ برغل لاندې دي ، د افغان حکومت پر خو وېپاڼو لکه د بهرنیو چارو ، مالیې ، پوهنې ، سوداګرۍ او صنایعو ، عدلیې او د ښځو د چارو وزارتونو پر وېپاڼو او ان د مخابراتو پر وزارت د انټرنېټي غلو له خوا برغلونه شوي دي . د انټرنېټي امنیت بوه امریکایي اداره وایي چې د افغانستان د حکومت رسمي وېپاڼې وراتکاري ساټ ویرونه یا مال ویرونه لري. په امریکا کې د معلوماتي ټکنالوژۍ د امنیت یا سایبر سیکورټي بوه څېړنیزه اداره وایي چې د افغانستان د حکومت په ګڼ شمېر رسمي وېپاڼو کې بې داسې مضر ساټ ویرونه موندلې چې ښایي سرچینه یې په چین کې وي . « تریټ کونکټ» Threat Connect چې مرکز یې په امریکا کې دی ؛ وایي ، د دې ټولې څېړونکو تېره اوونۍ د افغان حکومت د خو ادارو په رسمي وېپاڼو کې بو وایروس وهلی فایل وموند. تریټ کونکټ وایي چې افغان حکومت د دغه مضرو ساټ ویرونو د مخنیوي لپاره هېڅ راز انټي وایروس پروګرام نه لري. د دې ټولې د استخباراتي څېړنو د برخې مشر « رک بارګر» Rich Barger وایي ؛ دا د هغو حملو لړۍ ده چې سرکال بوه بل امنیتي شرکت وموندله او هغه یې د چین د استخباراتو کمپاین وباله . بارګر رویټرز خبري آژانس ته ویلي ؛ د افغان حکومت د رسمي وېپاڼو له لارې د جاوا ساټ ویر په وسیله وروسي حمله د ډسمبر په شپاړسمه په هغه ورځ وشوه چې د چین صدراعظم لي کیکیانګ د افغان حکومت له اجرایيه مشر عبدالله عبدالله سره په فراقستان کې وکتل. ویل کېږي ، چې ښایي د چین استخبارات غواړي د افغان حکومت د معتبرو وېپاڼو له لارې د دې وراتکارو ساټ ویرونو په وسیله پر ټرپواټو اهدافو حملې وکړي. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت هم دا بریدونه تایید کړي دي ، دغه وزارت هم پر یو شمېر دولتي وېپاڼو د انټرنېټي بریدونو خبر ورکړی دی. ددغه وزارت وباند نصرت الله رحیمي ویلي ، چې لویو ټرپواټو هکرانو د تېر ډسمبر پر نولسمه د افغانستان پر مجازي فضاء برید کړی ، او هغه یوه دوتنه (فایل) یې ګډوډ کړی ، چې د افغانستان د وېپاڼو د چلولو لپاره ګټه تري اخېستل کېده. ښاغلي رحیمي وویل ، په دغه برید کې د مخابراتو وزارت د معلوماتو مرکز په نښه شوي و ، خو د وزارت مسلکي چارواکو په ۲۴ ساعتونو کې د برید مخه ونیوه. د مخابراتو او ټکالوژۍ وزارت په داسې حال کې د دغه خبر پخلی کوي ، چې دغه وزارت په تېرو څه باندې لسو کلونو کې د پام وړ خدمتونه تر سره کړي او لویې برېاوې یې لرلې دي ، خو پوښتنه دا ده ، چې هغوی ولې وروسته له هغه دا خبر خپور کړ ، چې بوه امریکایي انټرنېټي شرکت د افغانستان د مجازي فضاء سیستم کمزوري وباله . او وویل چې هکرانو ددغه هېواد د دولتي وېپاڼو په ګډوډولو سره چلیځ سیستمونه ګډوډ کړي دي. له دې وړاندې دا وزارت ابله خپلې برېاوې ستایلې او خبر خبرت و ، خو د افغانستان د مخابراتو وزارت د معلوماتي ټکنالوژۍ بوه محکمې مامور محمد زبیر ورسحي ویلي ، نوډې دې کاله محکمې یې د افغانستان د مجازي فضایي سیستم په امنیت کې د خپلو نیمګړتیاوو په اړه د مخابراتو وزارت ته خبر ورکړی و ، چې لن هکرانو له دغو نیمګړتیاوو په ګټې اخېستو سره دولتي سیستمونه ګډوډ کړي دي. خبرونه وایي ، چې ښاغلي ورسحي دا هم ویلي ، چې په دا ډول بریدونو کې هکران چلیځو سیستمونو (Operating systems) ته کتګړي دوتنې (فایلونه) ورنیاسي ، چې په مټ یې بیا د کارووکو شخصي معلومات ترلاسه کولې شي . هغه وایي ، د افغانستان د مجازي فضاء ټول ورونه پرانیستې دي او دولتي ستونه ، لکه د وزیرانو کمپیوټرونه ، ددوی برېښالیکونه او د ارګ سولګرونه (کمپیوټرونه) هم د دغه ډول بریدونو ښکار کېدای شي. پر همدې مهال ، د مخابراتو وزارت وایي ، د افغانستان د مجازي فضاء د خوندي ساتلو لپاره سلګونه زره ډالر لګول شوي چې دغه هېواد د اړتیا په وخت کې د انټرنېټي بریدونو د مخنیوي لپاره تر خپله وسه له ټکنالوژۍ ګټه احلي ، خو هر ډول برید شنډولی شي. دلته ستونزه څه ده او څوک د دغو بریدونو د مخنیوي لپاره مامور دي ؟ منو ، چې په نړۍ کې ستر قدرتونه لکه چین ، شمالي کوریا او ان تر دې ، چې امریکا هم تر دغو بریدونو لاندې راغلای شي ، خو که ستونزه مالومه وي او درې کاله وړاندې د ستونزې په اړه خبرداری ورکول کېږي ، خو په اړه اقدام نه کېږي ، نو په رښتیا ، چې دا د ستري اندېښنې وړ مسئله ده. دا بریدونه د سختې اندېښنې وړ مسئله ده ، ځکه د حکومت ګڼ مالومات ، ارقام او پټ اسناد د دغو بریدونو ښکار شوي وي ، چې جبرانول یې ګران تمامېږي ، ځکه یې په دې کې استخباراتي تاروونه ، د امنیت پلانونه او ګڼ نور پلانونه هم شامل وي ، که د دغو بریدونو مخنیوی ونه شي ، نو ښایي د دولت ګڼ مدارک او اسناد تر برغل لاندې راشي او یا هم غلا شي ، دا اسناد ښایي د وراتکارو لاس ته ولېږي ، هغوی ، چې افغان ولس یې تر هر راز ترهګرۍ برید لاندې راوستی او په تېره بیا په دې وروستیو کې یې دا ډول بریدونو ته زورورکړی دی ، نو په کار ده ، چې د افغانستان نوي حکومت د سایبر امنیت ته جدي پاملرنه وکړي. په تېره بیا د مخابراتو او ټکالوژۍ وزارت په دې کې خپل مسوولیت په ښه توګه تر سره کړي.

له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې له پوځي او انکشافي مرستو دې په پوره شفافیت کار واخیستل شي

پرتمین همت یار

دغه غوښتنه وکړه چې د افغانستان د اقتصادي او امنیتي چارو ډېرمخ بیولو له پاره دې ډېرې دمرستندویو هېوادونو دمرستو دلګولو په برخه کې له پوره شفافیت او صداقت څخه کار واخلي او هېڅ ډول سپین سرګو، سرزوروا وحیلرو روروا کانو، لوټمارانو، دقدرت ګدیو او پیسولیونیانو او ساماراتوته دې دا اجازه ورنه کړي چې له دې وروسته نه افغانستان سره دېرې دمرستندویو ۷ مخ

داچې له افغانستان سره دغوځ ملاتړ، ترشعار لاندې دناتو په غونډه کې او همدارنګه تر څنګ یې د افغانستان په اړه دلندن په ډېوال کنفرانس کې مرستندویو هېوادونوله ۲۰۱۴ زېږدیز کال څخه وروسته له افغانستان څخه دامریکې، ناتو او ایساف دځواکونوله وتلو وروسته دځلورو کلونو په اړه له افغانستان سره دمرستندویو هېوادونو دځه دپاسه دوه دېرشو ملیاردو امریکایي ډالرو دپوځي او پراختیایي مرستو له ژمنو دتاره کولو او دوام سره بیا هوکړې وشوې او پاګیزه شوه چې د ۲۰۱۵ زېږدیز کال له پیل څخه تر ۲۰۲۴ زېږدیز کاله پورې به دېدلون په لړ کې د افغانستان دهراړخیز اقتصادي او امنیتي پرمختګ له پاره دېرې دمرستندویو هېوادونومرستې دوام وکړي او هم به ورسره جوخت هغه اوهاندوشي چې په دغه هېواد افغانستان کې دترهګرو او پرهغوي پورې دتړلو تروریستي ډلو دپاڼې شونو حرړې داسې و چې شي چې ترهګر بیا په افغانستان کې سرزاپورنه نه کړي او بیا په دغه هېواد کې خالي جوړې نه کړي او بیا نه دې خلیه دسپټمبر دمیاشتې دبوولسمې نېټې په خبر دنورو بوګډوونکو اوزړه دردوونکو پېښو لامل ونه ګرځي او بیا نړۍ ونه لړزوي دلندن اوناتو ددغو دواړو نړیوالو اقتصادي او امنیتي غونډو دېرخه والو مرستندویو هېوادونو او نړیوالو سازمانونواستازو دافغانستان له جمهور رئیس محمداشرف غنی څخه په کلکه

په افغانستان کې د ایساف ځواکونو مرستیال تورن جنرال کارستن یاکوبسون له دویچه ویلې سره په مرکه کې

افغانان خپلې لاس ته راوړنې د طالبانو په رژیم نه بدلوي

د ۲۰۱۴م کال د دسمبر په پای کې د نړیوالو ځواکونو جنګي ماموریت پای ته رسېږي. د ایساف د قوماندان مرستیال، تورن جنرال کارستن یاکوبسون له دویچه ویلې سره په ځانګړې مرکه کې د تېرو ۱۳ کلونو اوروونه وړاندې کړه.

دویچه ویله: ښاغلي یاکوبسون! له لس څخه ۱۳ کاله مخکې د طالبانو رژیم د امریکا متحده ایالاتو تر سختو هوایي بمبارېو وروسته لسکور شو. اوس بیاهم کابو هېره ورځ د طالبانو د حملو شاهدان یو. فکر کوی چې رښتیا هم ناتو په ښه زړه خپل جنګي ماموریت پای ته رسوي؟

یاکوبسون: د ناتو جنګي ماموریت په حقیقت کې په ۲۰۱۲ کال کې تر زیاتې کچې افغان امنیتي ځواکونو ته د امنیتي مسوولیت د انتقال په موده کې وسپارل شو. د افغانستان امنیتي ځواکونو سر کال د وسمشرۍ د پاکټو او د هغو د لتابجو د حملو په وخت کې د څه د پاسه ۹۰ سلنه پوځي عملیاتو مشري په غاړه درلوده. په دې برخه کې ځینې هغوی تر یوې کچې د ناټو له ملاتړ څخه هم برخمن وو، خو وروسته له دې به دغه مرستې په پوځي سلا مشورو او د افغانستان د امنیتي ارګانونو له مشرۍ څخه ملاتړ پورې محدودې شي. نو زه خوشبین یم چې د افغانستان وسلوال پوځ په داسې وضعیت کې دې چې په خپل هېواد کې امنیتي مسوولیت په غاړه واخلي او د هغه ضمانت وکړي. دوی د دوبي په دوو فصلونو کې دغه آزموینه ورکړه. البته موږ په یو لوی ماموریت کې له یوې لوې دندې سره دلته پاتې کېږو او له هغوی سره مرسته کوو.

دویچه ویله: د ۱۹۸۰مې لسیزې په پای کې کله چې بخوالي شوروي اتحاد خپل پوځونه له افغانستان څخه وایستل، د هغه وخت د نجیب الله رژیم وکړای شول چې یواځې دوه درې کاله د باغیانو په وړاندې مقاومت وکړي. د هغه له لسکورېدو سره په افغانستان کې کورنۍ جګړه پیل شوه؟ عام افغانان اندېښنه لري چې دوه کاله وروسته د ناټو او متحده ایالاتو د ځواکونو له وتلو څخه وروسته به دغه تاریخ بیا تکرار شي. تاسې دغه اندېښنه تر کومه ځایه پر ځای ګڼئ؟

یاکوبسون: اوسني وضعیت له هغه وضعیت سره چې شوروي اتحاد خپل پوځونه وایستل هېڅکله د پرتله کېدو وړ نه دی. په هغه وخت کې چې د شوروي د پوځو پر ضد مقاومت روان و، په افغانستان کې هغسې یو رژیم واکمن و چې د اشغالي ځواک له خوا قدرت ته رسول شوي و او دغه رژیم په دې وجه ګڼګ پاتې نه شو چې د خلکو نېاره د ملتو وړ نه و. دا د خوندۍ کورنۍ جګړې سبب شو، خو نن په بشپړ توګه بل ډول وضعیت لرو. نړیوالې ټولنې په پوره زیار سره د افغانستان وسلوال پوځ وروزه او هغه یې په وسلو سمبال کړ. په نتیجه کې افغان امنیتي ځواکونه وتوانېدل چې له خپلې دیموکراتیکې پروسې سره ملګرتیا وکړي او د باغیانو د خوښې پر خلاف په پوره بریالیتوب سره د ټاکنو امنیت خوندي وساتي. موږ په همدې تیر دوبي کې د افغانستان په تاریخ کې د نومړي حمل لپاره له بو منتخب ولسمشر څخه بل منتخب ولسمشر ته د قدرت د لېږد شاهدان وو که چېرې سړي اوسني ټولنیز وضعیت او پرمختګ ته نظر واچوي، نو دا په بشپړه توګه د شوروي د ځواکونو له وتلو سره توپیر لري. مهمه دا ده چې اوس موږ د پخوا په پرتله په افغانستان کې نسبتاً یو پاتیانه وضعیت لرو، دلته یو پاتیانه حکومت شته چې د ودې په حال کې دی او د دې توان لري چې افغانستان په اقتصادي، امنیتي او په سیمه کې د همکاریو په برخو کې رهبري کړي او بریالیتوب ته یې ورسوي

دویچه ویله: ناتو څرنګه کولای شي چې دغه لاس ته راوړنې چې تاسې ترې یادونه وکړه د عراق په خبر بیرته له خاورو او اوږ سره برابرې نه شي؟

یاکوبسون: کوم بریالیتوبونه چې ما تري یادونه وکړه هغه د حساب وړ ارقام دي. خپرې پواځې د امنیتي ځواکونو د روزنې او سپاتونې پورې چې شمېر یې ۳۵۰ زرو ته رسېږي. له محدودېږي په ټول هېواد کې په مختلفو برخو کې پرمختګونه لیدل کېږي. د بنسټیزو تاسیساتو جوړول، د بریښنا غزول او د زوندانیانو پراختیا.



نړیوالو متحدینو ترمنځ اعتماد له سخت ټاوان ورسېد. د بیلګې په توګه څو میاشتې مخکې د کابل په بوې پوځي اکادمۍ کې بو افغان سرتېري بو امریکایي جنرال ووژاړه او بو آلماني جنرال یې ټپي کړ. د داسې یو پس منظر په پام کې نیولو سره په نوي «پریکړن ملاتړ» ماموریت کې څرنګه د اعتماد وړ همکاري ممکنه ده؟

یاکوبسون: جنرال هیرولد ګرین چې د اګست په پیل کې موږ له لاسه ورکړ، زما یو شخصي ملګري و. زه د هغه وخت په وضعیت ډېره ښه خبر یم. ځکه زه خپله هم په دندې کې وم. په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کلونو کې زمونږ هم «داخلي حملې» یا «دوست دښمن» لومې پېښې د اندېښنې وړ موضوع وه. له ۲۰۱۲ کال څخه را په دې خوا موږ په بو ګڼ شمېر تدابیرو لاس پورې کړ. نه یواځې موږ بلکې افغانانو هم دا ډول پېښې کم شوي دي.

د افغانستان په پوځي اکادمۍ کې نومړي پېښه یوه استثناء وه. دا د جون د میاشتې او زما د دندې له پیل څخه را په دې خوا یواځې پېښه ده چې راصلح نه شوه. دا ډول پېښې ښایي د آلمان د امنیتي ګواښونو نه دي. اصلي ګواښونه چې د آلمان زړه پرېښوي، هغه دي چې طالبان یې په پټو سترګو، په قصدي او هدفي توګه پر افغانانو کوي، څرنګه چې په دې تېرو څو ورځو کې موږ شاهدان یو.

دویچه ویله: ناتو د افغانستان له پوځي ماموریت څخه د یو بل ماموریت او یا د راتلونکو نړیوالو ماموریتونو لپاره څه درس اخېستې دې؟

یاکوبسون: د دې ماموریت مهم اړخ دا دې چې دوه ماموریتونه هېڅکله یو بل ته ورته نه دي. د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې شرایط سره توپیر لري، خو یو مهمه زده کړه له دې ماموریت څخه دا ده چې موږ یو سیستم ته اړتیا لرو چې د همه په مرسته پرته له خپل څخه د دې توان ولرو ترڅو په هغو دولتونو کې چې اړتیا لیدله کېږي داسې امنیتي نظام سم جوړ کړو. د نړیوالو نورمونو او ارزښتونو له تصور سره سمون ولري

البته حتمي نه ده چې په دې اړه لوېدیځه دیموکراسي یې نمونه وي، بلکې هغه باید د بشري بین الدول حقوقو د چوکاټ ټول شرایط مراعات کړي او دا امنیتي ځواکونه په داسې ډول وروزل شي، مجهز، سمبال او ملتیا ورسره وشي چې د دې توان ولري چې پرېږدي ترڅو سیاسي قدرت د دولت په لاس کې پاتې شي او دوی د امنیت ضمانت وکړي. کله چې دغه هدف تر لاسه شي، بیا نو موږ ویلای شو چې زمونږ دنده ختمه شوې ده او کولای شو چې بیرته ووځو.

دویچه ویله: د آلمان د دفاع پخواني وزیر پیتر شتروک چې اوس وفات شوې دې، یو وخت ویلې و چې «د آلمان دفاع د هندوکش د غرو په لمن کې کېږي.» آیا دغه جمله لا تر اوسه هم صدق کوي؟ ۷ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

روغتیا او ژوند

مستې مو د شکر له ناروغۍ څخه ژغوري

که تاسې په خپل ورځنۍ ژوند کې ماسې له استعمالوئ نو له دې وروسته یې د خپلو غوړو سوه اړینه برخه وګرځوئ. په هاروارډ عامې روغتیا اداره کې شوې دغه نوې څېړنې لاښه کړې چې د مستو زیات یا ورځنې استعمال به انسان د شکر له ناروغۍ څخه په ژغورلو کې ډېره زیاته مرسته وکړي. د څېړنې په اساس د ورځنې ۲۸ ګرامه ماسته خوړل به د شکر ناروغۍ خطر ۲۰٪ کم کړي. څېړنې په اساس د یو لک او نهه خلویښت زره کسانو د ژوند او ژوند کولو طریقه له څېړنو څخه دا معلومه شوه هغه کسان چې هره ورځ ماسې استعمالوي په هغو کې د شکر ناروغۍ په کمه اندازه لیدل کېږي. د دغې څېړنې څېړونکي وایي چې د زیاته اندازه ماسته خوړل به زیاته اندازه د شکر ناروغۍ خطر کمولو نسبې سبې که څوک غواړي چې له دغې ناروغۍ څخه په امان وي نو له ۲۸ ګرامو څخه هم زیاته اندازه ماسې باید استعمال کړي.

له زکام څخه د ځان ژغورنې مهمې لارې چارې

د ژمي په راتلو د نړۍ شاوخوا اوسېدونکي خلک خوشې کوي او د اوړي په پرتله ژمي له خوشبه وي، مګر سوه وېره ورسره وي، هغه دا چې په ژمي کې د سړي هوا له امله د هوا اړجي، او زکام خلک ډېر تکلیفوي او داسې هم ویل کېږي، چې د زکام دارو وخوري، نو په یوه اوونۍ کې به بېه کېږي او که یې ونه خوري، نو هم یوه اوونۍ وروسته به بېه شي. له زکامه د ځان ژغورنې لپاره څو پېژندګې کورنۍ نسخې درسره شریکوو او لوستونکې یې باید له خپلو دوستانو سره شریکې کړي.

لاس وینځل له زکامه د ځان ساتلو یوه اسانه طریقه دا ده، چې هر وخت باید خپل لاسونه په صابون پاک وینځل شي، ځکه چې فلو وایرس ډېر وخت، د ټوخې، او یوازې له لارې بل ته انتقالېږي پر زکام اخته ناروغ خپل لاس په خوله او پوزه وهي او دغه لاس بیا بل روغ سړي سره تګېږي، چې هغه یې بیا خپلې پوزې او خولې ته وړي، نو بېه طریقه دا ده، چې تل باید خپل لاسونه په صابون وینځل او لږ تر لږ دې نسل ساتلو خلکو ونه وژغورو. زمي، چې ځکه ځانګړې د خپل قدرت له مخې شپې اوږدې کېږي، نو د خوب پر مهال د انسان بدن د ضایع شوې خلیتو د مرمت او بیا سمولو کار پیلوي او د انسولین سامونو د خوب په نتیجه کې د انسان بدن پرته خپل صحي حالت نه راګرځي او د فلو «زکام» وایرس یې له بدنه وځي او دې مقابل کې ذهني سټریا او بې خوږي د بدن مدافع قوت کمزوری کوي، چې له امله یې د زکام په ګډون نورې ناروغۍ هم پر انسان اغېزه کوي.

ورزش بدني ورزش د انسان بدن کې وینه ګرمه ساتي او سپین کروویات پر بدن د وینه کوونکو وایرسونو مخه نیسي. ځکه ځکاریوهان وایي، چې شپه ورځ کې لږ تر لږه یو ساعت ورزش انسان تندرست ساتي. دا لازمه نه ده، چې حتماً ځې ډېر او رسمي ورزش وکړي، بلکې په زینو کې کښته پورته ختل او خلویښت قدمه هم سړی له زکامه لاره دا ده، چې سړی باید له ډېرو غوړو او خوږو خوراکونو ځان وژغوري. سړی ژغورلی شي.

زنګ وهل په متاسبه اندازه صحي خواړه، چې زنګ ولري د فلو وایرس مخنیوي کې ډېر رول لري د دې لپاره بېه میوې او لږ پروټین لرونکې خوراکونه استعمال کړي او دې کې تر ټولو اغېزمن او ګټور شی زنګ دی، چې د فلو وایرس په مخنیوي کې به رول لري.

اوږه اوږه د جرابېدو په وژلو او له منځه وړلو کې ډېره مشهوره ده او زمي کې پر بدن د بکتیریا او نورو وایرسونو په مخنیوي کې ډېر کار کوي او که تنه اوږه له چکن سوپ سره وکارول شي، نو هېڅوونکې ګڼې به وارې.

اوبه زمي کې ډېرې خلک د سړي هوا له امله له کوره به راوځي او د کوز ګومو کولو کې وخت تېروي، چې وزسره د بدن لوږوالی کمېږي او دغه بهال د بدن دفاعي حالت کمزوری کېږي، مګر له دې حالته د ځان ژغورنې لپاره بېه دا ده، چې سړی د خپل بدن اوبه پېوره وساتي او وخت پر وخت په مناسبه اندازه اوبه وڅښي.

خندا شته روبه او چلند خو انسان د ژوند په هر ډګر کې برياته رسوي او د دې تر څنګ که څوک خندا خپل عادت وګرځوي، نو یوه اضافي ګټه یې دا هم ده، چې تر ډېره به له زکامه خوندي وي. د خندا د نورو ګټو تر څنګ یوه دا ده، چې سړی په خلاصه خوله وخندي، نو دې سره د بدن د دفاعي نظام خلیې زیاېږي او د فلو وایرس مخنیوی کوي.

د سرطان د مخنیوي لپاره د روغتیا د نړیوالې اداري سپارښتنې



د روغتیا نړیوالې اداري (WHO) د سرطان د مخنیوي لپاره څو سپارښتنې کړې او خبرې کړې دي. ډاکټر (Joachim Schuez)، چې دا خبرې یې کړې، وایي چې که انسانان په خپلو عادتونو کې بدلون راولي نو ډېره د سرطان په وژونکې ناروغۍ له اخته کېدو ژغورل کېدای شي.

۱- سګرېټ مه څکوئ: هېڅ راز دخانیات یا تمباکو مه استعمالوئ.

۲- کور مو د سګرېټو او نورو دخانیاتو له لوګي پاک ساتئ: د کار په ځای کې هم بل څوک مه پرېږدئ چې سګرېټ وڅکوي.

۳- د بدن وزن ته خیال ساتئ.

۴- په ورځنۍ ژوند کې له فزیکي نظره فعال اوسئ: هغه وخت کم کړئ چې په ناسته یې تېروئ (یعنې ډېره ناسته او نه تحرک بد دي).

۵- صحي خوراک کوئ:

" زیات حبوبات، سبزیجات او میوه خورئ.

" د زیاتې کالورۍ درلودونکې خوراکونه لږ کړئ (له هغه خواړه چې زیات خواړه یا غوړ لري).

" پروسس شوې غوښه (سلامي - ساسج) مه خورئ: سره غوښه (د غوبې او په، کمه خورئ او په خوړو کې د مالګې اندازه لږه کړئ).

۶- که هر راز الکول څښئ، اندازه یې کمه کړئ: د الکولو بیخي نه څښل د سرطان د مخنیوي لپاره بېه دي.

۷- لمر نه زیات مه پاتې کېږئ، په تېره بیا ماشومان باید د لمر وړانګو نه زیات وخت تېر نه کړي. د لمر ضد کریم استعمالوئ: د لمر له حمامه ځان ساتئ.

۸- ماشوم نه د مور شیدې د سرطان خطر کموي.

۹- خامخا چلو ماشومانو نه دا واکسینونه ورکړئ:

" هیپاټایټ بي (د نوزېږو لپاره).

" ایچ پي وي (Human papillomavirus) د نجونو لپاره.

۱۰- د سرطان د معاینې په پروګرامونو کې برخه واخلئ:

" د کولمو سرطان (ښځې).

" د سینې سرطان (ښځې).

" د زیلانځ یا رحم سرطان (ښځې).

هورمون بدلولو تداوي مه کوئ ځکه چې (Hormone replacement therapy) د ځانګړو سرطانونو خطر زیاتوي.

۹- خامخا چلو ماشومانو نه دا واکسینونه ورکړئ.

نارنجي رنګه خواړه مو له ړندېدو ژغوري

تاسې به اوریدلي وي چې ګازرې او نارنج رنګ نه ورته خواړه د سترګو ډېر زیاتوي او باصري حس له ناروغیو او کمزورېدو ژغوري. دا رښتیا ده، ځکه چې دغو خوړو کې بیتا کیروټین (Beta-Carotene) مواد چې ویټامین اې (vitamin A) غوندې دی، وجود لري چې دغو خوړو نه زېږ رنګ ورکوي او سترګې او ډېر نه یې ډېر ګټور دي. خو نوري بیتا کیروټین د (Zinc) هم لري چې د سترګو شاتنی برخه کې د داغ پیدا کېدو مخه نیسي او انسان له ړندېدو ژغوري.

۲- سټروس او توتان: دغه میوې پرېمانه پیمانه ویټامین سي (Vitamin C) لري، چې انسان له ړندېدو ژغوري او په سترګو کې موجود اوبو څخه ساتنه کوي او د کمېدو مخه یې نیسي.

۳- بادام: بادام له ویټامین اې (Vitamin E) څخه ډک دي. ویټامین اې (Vitamin E) هم په سترګو کې د داغ پیدا کېدو او ړندېدو مخه نیسي. څېړنې ثابته کړې ده چې د ورځې یو مټی بادام بدن د ویټامین اې اړتیا پوره کوي.

۵- د کبانو غوړ: ټونا (Tuna)، سالمون (Salmon) او انچووي (Anchovy) نومې کبانو کې دي ایچ اې (DHA) نومې مواد په زیاته اندازه پیدا کېږي. دې ایچ اې (DHA) یو ډول غوړ اسید دی چې د سترګو له وچوالي څخه چې (Dry eye syndrome) په نوم یادېږي مخنیوی کوي.



آتیزم یا د اعصابو د ودې ستونزه، ښه والی او مشکلات یې

دادی هغه څوک چې په آتیزم اخته وي: هاضمه یې خرابه وي او له همدې کبله اندېښنه یې زیاته وي ترڅنګ یې له ټولنیز پلوه سخه وي چې له خلکو سره خبرې وکړي. پارکر وایي، «دده په خوراک کې بدلون دده روغتیا او طبیعت ته انکشاف ورکړی دی.» هغه زیاتوي، «زه فکر کوم اوس بقینا هر وخت ډېره کمه بدخلقي، ډېره کمه سخت مزاجي او جنجال کوم.»

زیات شمېر څېړونکي دا ګومان کوي چې پارکر غواړي بوخه وکړي. د کالیفورنیا د ټکنولوژۍ اوسابنس د انسټیټوت پو سابنس پوه سارکز موزمانین وایي هغه خواړه چې خلک خوري په ملیاردو ګټورو باکټریاګانو باندې چې د هاضمې په نظام کې ژوند کوي، اغېزې لري. په دې کې د بکتریاید فراجیلس بکتریا هم شامله ده. هغه زیاتوي، «دغه بکتریا د پریشانۍ او اضطراب حالت ته انکشاف ورکوي، تکراري خوبونو ته هم انکشاف ورکوي او د خبرو اترو مهارت ته هم وده ورکوي.» مازمانین وایي دغه میکروب هغو مړو ته ورکړل شو چې په آتیزم اخته وي، دهغوی د کولمو روغتیایي حالت ښه شو، او بالاخره دهغوي اندېښنې هم ورکې شوې. هغه وایي ددغه اغېز به پر هغو انسانانو هم ډېر پراخ وي چې په آتیزم اخته دي. هغه وایي، «لږ ترلږه په آتیزم باندې د اخته خلکو، په بوه فرعي ځانګه کې، آتیزم دمغزو ناروغي نده. خو ښایي هغه ستونزې چې په کولمو کې دي، هغه په اتیزم باندې د اخته خلکو په خبر اعمالو په پیداکولو کې ونډه لري که چېرې څوک د کولمو او خېټې د علاېمو چاره کولی شي، نو په کړنو اوسلوک کې یې هم انکشاف راتللی شي.» د اریزونا د ایالت له پوهنتون څخه روسا کرازمالینک هم په انسانانو کې آتیزم په هکله ورته شواهد پیداکوي. هغه وایي، «زیاترو خلکو چې څېړنې کولې، هغوی به په آتیزم اخته ماشومانو په کولمو کې د پاتوجینز لټه کوله. موږ په هغوی کې د پتو جینز لټه نه کوله. موږ په دې پې کتل چې په ماشوم کې ښه میکروبونه شته که نه. او موږ دېته ورته نښې نښانې پیداکړلې.» د هغې په لابراتوار کې داسې شیان په مستند ډول پیدا شوي چې په اتیزم اخته ماشومانو کې د کولمو مختلف میکروبونه نظر هغو ماشومانو ته کم وي چې په آتیزم اخته نه وي. دهغې ملګري ګومان کوي چې ښایي ددغه کار علت د عصري خوراکونو او انټي بیوټک دواګانو ډېر استعمال وي. داټول څېړونکي په دې موافقه لري چې په دې برخه کې نور ډېر شیان هم دخپل دې نسبت دې ته چې د هاضمې، میکروبونو او آتیزم ترمنځ اړیکې پیداکړای شي. خو هغوی په دې باور دي چې دوی په یوه امېدبښونکې لاره روان دي، او ددوی موندنې ښایي د طبیعت د نورو بې نظمیو لکه زور خپګان او سودایي ټوب په برخه کې مرسته وکړي.

د ماشومانو ختنه (سنتول) د ایډز خطر کموي

په امریکا کې د ناروغیو د مخنیوي او مبارزې یوه مرکز د ناریه وو د ختنې (سنتولو) په اړه یو لاربود خپور کړی، او له خلکو یې غوښتي، چې تر ۲۵ ورځو پورې خپل نظر وسیي، چې یا وروسته دغه مرکز د سنتولو په اړه خپل وروستی لاربود خپور کړي. دغه لیکل شوی ابتدایي لاربود د سنتولو د ګټو او زیانونو د علمي شواهدو پر بنسټ چمتو شوی، چې په خلګړې توګه د ایچ آي وي وېروس د لېږد په اړه د مخنیوي په اړه ډېره پاملرنه به کې شوې ده.

ګټې

ختنه کول د ختنې اړیکې پرمهال د ایچ آي وي وېروس د لېږد خطر، له پنځوسو نر شپږو سلې پورې، کموي، یا په ټوله وینا، سنت شوي کس له یوې داسې ښځې سره د جنسي اړیکو پرمهال چې ایچ آي وي ولري، نو امکان لري چې په ایچ آي وي وېروس اخته شي ندي.

سربېره، سنتول د تناسلي ناروغۍ (Herpes) خطر په سلو کې له ۳۰ تر ۴۰ پورې کموي شي، او د هغو خطرناکو وېروسونو په مخنیوي مرسته کولی شي، چې له سرطان سره تړلې اړیکه لري. ارزونې ښیي، چې سنتول له ښځې نه سړي ته د ایچ آي وي وېروس د لېږد احتمال کموي. دا هم ښکاره شوي، چې په سنت شوي نارینه وو کې د سرطان ناروغۍ که وي له یوې اوږدې مودې راهیسې په خپرېدو ټولنیزو کېږو کې په دې خبره یو نظر څېړنې روان دی چې د نارینه کوچنیانو ختنې کول د دوی د روغتیا لپاره خومره ګټوره ده. د دې دود پاتې له اخلاقي پلوه خومره د منلو وړ دی. دا بحث په خپلو مواردو کې د علمي ګوښېلي پولو له وېرې نه د سیاست غولي نه هوډ اوښتی دی او په خپلو مذهبي او ټولنیزو کړنو کې یې ترڅه غېرګونونه رېولي دي. ډاکټر ارشوه کوي چې د ختنې عملیه اړینه ده چې په یو سپېڅلي یا تنظیم شوي چاپېریال کې د روغتیا د ټولنیزو ډاکټرانو په لاس ترسره شي.

ساینس

د دوو ژبو زده کول روغتیا ته ګټه لري

د سایس د پرمختګ لپاره د امریکایي اداري پوهان وایي چې د دوو ژبو زده کوول روغتیا ته ګټه لري. د دغې اداري څېړونکي وایي هغه وګړي چې دوي ژبې یې زده کاروي د هغو په پرتله چې یوه ژبه یې زده وي د ناروغیو په مقابل کې ډېر مقاومت لري. همدارنګه هغه ماشومان چې دوي ژبې یې زده وي د هغو په پرتله چې یوه ژبه یې زده وي ډېر فعاله او ځیرک دي. دغه څېړنه چې د الزایمر په ناروغانو باندې شوې ښیي چې د دوو ژبوروښونکي وګړي ددې ناروغۍ په مقابل کې ډېر مقاومت لري. د پورتنیو دیورک پوهنتون یو اروا پوه ایلس بیالیستوک وویل که څه هم د ژبو زده کړه د انسانانو په عمر پورې نېغ تړاو لري خو بیا هم دا څېړنه د هر عمر لرونکي انسان باندې صدق کوي. هېرده دې نه وي چې په دغه څېړنه کې راغلي دي هغه کډوال چې په کور کې مورنۍ او د کورباندې د هغه هېواد ژبه وایي د مغزي فعالیت او روغتیا له اړخه د هغه هېواد د کورنۍ وګړو په پرتله ډېر سالم دي. د دې څېړنې په پایله کې داسې انګېرل شوي چې له دوو د ډېرو ژبو زده کړه او کارول کېدای شي د مغز په فعالیت له دې امله مثبت اغېزه وکړي چې په یو وخت کې باید ویونکی په خپل مغز کې خپل خلنه د ژبو ګوډونه سره بدل کړي.

تنها اندړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادب ، تاریخ او فولکلور

د کابل لرغونی او تاریخي دېوال د واقعیتونو او افسانو په رڼا کې

د شیر دروازې دغره هغه لرغونی، تاریخي او اوږه دیوال چې تقریباً له څه کم ۱۵۰۰ کالو پخوا ددغه غره په سلوغو لاشولو کې، دیوه اوږده بیامار په څېرکیږو وو، له پل آرتل نه د سهیل ختیځ بالاحصار پلوغزیدلی دی، ډېرو زمانوڅه یادونه له ځان سره لري کوم بې واقعیت او کوم بې افسانه دي ؟

څکه د کابل ښاریانو لرمنځ همدا اوس هم په متحد المال ډول دا نقل قول موجود دي چې ددغه دیوال په پخوکې په زرګونوهغه کسان چې ددیوال د جوړولو پر مهال یې یا د وخت د پاچا نا فرماني کړې، یا هم دا ډول پنده اویا هم د تهداب ښېره لرې لویدلي ده، ځښ شوي دي: دا ټولې هغه پوښتنې دي چې اړتیاده د واقعیتونو په رڼا کې یې سپیناوې وشي او بشپړ جواب ورته موندل کیداي شي، څکه دغه دیوال همدا اوس هم له سره تر پایه د یو تاریخي یادګار په توګه په ځای ولاړ دي اوبالمشاهده یې هر لیدونکي د لرغونو زمانود انساني شاهکاروبوخلاندې منظرپه عنوان ویني اویژني. اصله خبره د منطقي دلایلو په رڼا کې د هغه افسانوي او زړه بوګنوونکو روایاتو په سپیناوې ده چې همدا اوس هم د کابل د یو شمېر خلکو تر منځ په پاڅه یقین زمزمه کیږي — لرهرڅه لومړي دا رښتیاده اومنو یې ! چې دا دیوال د زلیل شاه او زبورک شا د واکمنې پر مهال دوخت د یوه قوي (سد) په توګه ډېرڅیو دحملو د مخنیوي په مقابل کې جوړ شوي دي خودا چې دا دیوال د ډېرحن له حملو نه د (محصور) بار د بچ پاتې کېدو لپاره لرګوته اړیدې سوار اواغیزناک و او جوړول یې په دومره کړاواو زحمت اړیدل چې دا دیوال دې جوړ شي

، موږکوم کارنلرو ، اصل مطلب دادي چې داوه شو ددغه دیوال د رڼګو شویو او بیوېدلو ځایونو په کومه برخه کې چا د انسانانو دهېوونو را ځنګ ټولې او کوم هېوکې لیدلي چې دغه انګېرنې له افسانې نه واقعیت ته ورسوي ، ښایي ځواب منلې وي، څکه که چیرې د اسحاقي غره په سنوغو لاشولو کې ددیوال په امتداد چا د افسانو مطابق کوم هېوکې لیدلاي وا، ې حتمي ددغه روایت په مصداق موضوع په رسمیو کې را غبرګیده چې بیا د شک ځای نه پاتې کیده په رڼا کې هم دغه ځانګړ پاچا پرته له دې چې ارزښت ولري دغه دیوال له خاورو او ګېرو نه جوړ شي

کر چې دیوه ظالم پاچا د ظلم او بیداد بیوه ستري او درنده نمونه ده خوداسې څه چې ډېخوانیواو اوسنیو روایاتو سره مطابقت ولري په دغه دیوال کې نه دي لیدل شوي او دا نه منو چې دغه ظالم پاچا به په دغه دیوال کې شوکت بیخ کړي وي که دلیل را وړو چې ددغه ستري دیوال د جوړولو اړتیا نه وه د کابل ښار اوسیدونکي به پرې کړیدلي وي لږ یوه بریده بیخه ده خو که دا دیوال نه وای نو دا شاهکار به هم نه و ددغه دیوال په اړه بل روایت نه راځواو هغه دا چې وایي زبورک شاه د یوې ښځې په لاس له منځه ولاړ ، دا چې ولې دې ښځې یوپاچا ووازه ! وایي چې ددغه پاچا د واکمنې او ددیوال جوړولو پر مهال یوه ځوان له یوې لجنې سره کوژدن وکړ اوکله چې ددوې د واده ورځ را ورسیده نو لجنې له هلک نه وغو ښتل چې نس رخصت واخلي او کارته مه ځه ، هلک نه وړي دا جرئت ونکړچې د پاچا نه فرمانه سرغړونه وکړي لجنې یوه شوه چې پاچا ډېرظالم دې چې خاوند له یې د واده په ورځ هم رخصت نه ورکوي ، له ځان سره یې پرېکړه وکړه چې د پاچا چاره به خامخا کوي ، د کار ځای نه راغله او نه کارګرانو سره یې په لوغ مخ ګډ په کار پیل وکړ ،دا وخت ناببره پاچا نه کوم توري پیدا شو کله چې دښځې سترګې پرې وګډېدې نو زر یې خپل مخ له پاچا نه پټ کړ پاچا په ډېر تعجب له ښځې وپوښتل چې ولې له کارګرانو سره په لوغ مخ کار کوي او نه ما دې مخ پټ کړ ،ښځې په ځواب کې ورته وویل زه په دغه ځای کې له تا پرته بل نر نه وینم ،پاچا بیا په ډېر تعجب لرې وپوښتل !

نه څه وایې ! دلته هغه کسان چې کار کوي ټول نارینه دي !

ښځې جواب ورکړ، نه ! که چیرې دوي نران وای نو سنا دا دومره ظلم ، ناروا او نادودې به یې په ځان نه منلې ، لږه یې را واخیسته پاچا یې په ګګري ووینشت او په ټکي یا چا وویل شو په پای کې یو ځل بیا یادونه کوو چې دغه دیوال یو ځل په شپاړسمه پېړۍ کې او بل ځل د احمد شاه ابدالي د زوي تیمورشاه د واکمنۍ او یا د امیر عبد الرحمن خان په زمانه کې مرمت شوي دي خو دا خبره له هېڅا نه ده اوریدل شوې چې ددغه دیوال په ځینې برخه کې د چا دلاس ، پېچې او یا ګټوري وراسته هېوکې را وځنګل، موږ ولیدل او دا یې بیلګه ده نوورو سنې او ځرګندې نتیجې نه زېږو چې زبورک شاه به په دې ظالم و، چې دومره ستري دیوال یې د یوه سپر په توګه د پردیو د حملو ددفع او لرد په مقابل کې جوړاوه خو دومره به نه و، خوړې چې ژوندي انسانان یې په دیوال کې ښخول په هر صورت روایت دي چې دا ښځه چې دغه پاچا یې ووازه ،سو مهې ، نو میدله ، چې د سپوږمۍ په مانا ده او دا غږ چې دا دیوال یې په سینه کې نیږ شوي دي لسمې وجه یې د سو مهې نه نامه لومړي د رآسه ماه ، او وروسته په راسماهي ، او بیا دي اوده! کیه هم د کابل ښاریانو ترمنځ له یوې زړې نه بلې او نه یوې سینې بلې نسر نس ورځې را رسیدلې ده

حیات الله

د سرمحقق سید محی الدین هاشمي «وینا څنګه وکړو؟» ژباړل شوی کتاب له چاپه را ووت

دهرکاربه ترسره کول خپل خانته یوه لبغه ، پخه ، مستقیمه لاره او طریقه غواړي که څوک پخپل هدف کې له دې لیغې لاري چپ شي نو خود به خامې ته وزي او دوړې به کوي ، دلته زموږ موخه هم په یوه ډېره مهمه موضوع چې هغه «ویناخنګه وکړو ؟» دیوه نوي چاپ شوي کتاب په مخ کتنه او منځپانګه را ځرخي ځکه هم کتاب مهم دي اوهم یې مخ کتنه باید په داسې الفاظواو کلماتو وشي چې د کتاب له محتویاتو سره تناسب ولري او دهغه اهمیت په رښتیني بڼه را غبرګ کړي ځکه د کتاب له عنوان څخه څرګندېږي چې دیوې پېژې (ناستې) انساني کتلې په وړاندې د خطابي د میز له شا د لومړي ځل لپاره څنګه وینا وکړو ؟ داسې وینا چې که مو لومړي ځل هم وي خوغږ او نه مو دحاضرینو له اغیږي ونه زیږي په رښتیا هم چې د لومړي ځل لپاره په یوه محفل کې وینا سخته ده اوسمې پر ځای او منطقي خبرې کول هم کومه اسانه خبره نه ده که چیرې موږ یو څوک وګورو چې د خطابي د میز له شا په جرئت او مهارت خبرې کوي ښایي په ناربار یې بیانې ورکړې وي او په ځان بشپړ کنترول او حاکمیت ولري نو ځکه هغه کسان له دې امرنه منتني دي

زموږ خبره په هغو کسانو ده چې نوي غواړي لیږان شي اویا هم ذکوم بل مکلفیت له مخې وینا کولو ته اړ شي ، نو څنګه باید دوي جرئت ولري چې په داړه زړه دنورو په وړاندې خبرې وکړي ددوي لپاره څه کول پکار دي ؟ په دغه کتاب کې ددې وړ کسانولپاره داسې پیغام پروت دي چې د کتاب په لوستلو یې ستونزه کنترولیږي په رښتیا هم چې ددغه کتاب مطالعه به له هغو کسانو سره ډېره مرسته وکړي کوم چې غواړي نوي د سیاست په ډګر کې داخل او خپل ذهني تراوشات به سمه او منطقي توګه حاضرینو ته ابلاغ کړي دغه کتاب په پخو برخو او پخلسو خپرکیو کې چاپ شوې دي په

